شیرمحمد امیني ستانکزی ۲۰۱۹/۰۸/۲۰

# د هېواد د خپلواکۍ د سلمي کليزې په وياړ

انګريزانو چې زموږ په ګران هېواد افغانستان باندې يرغل راوړل او زموږ خاوره يې تر ولکې لاندې کړې وه، د هېواد اتل ولسونو د زياتو سرښندنو اومبارزو وروسته په ۱۲۹۸ لمريز کال افغانستان د يرغلګرو انګريزانو څخه خپله آزادي اوخپلواکي د غازي شاه امان الله خان په مشرۍ ترلاسه کړه او دغه ستر وياړ چې مورته پاتې دی؛ نه هيريدونکي او زموږ راتلونکي نسلونه به پرې وياړي.
له نن څخه پوره سل کاله وړاندې زموږنيکونواو پلرونو، په خپلو اتلوليواو سرښندنو خپل هېواد د وخت له يرغلګرو انګليسانو د هغه استعماري او کبرجنې امپراطورۍ څخه آزاد کړل.
دغه ورځ هرکال په هېواد کې په پوره شاندارو جشنونو اومحفلونو سره يادونه يې کيږي او افغانان په سر لوړي او افتخار پر انګليس باندې د خپل تاريخي بري ورځ لمانځي.
انګريزي استعمارګرو غوښتل، چې زموږ په هېواد د سياسي حاکميت په ټينګولو، سياسي او اقتصادي موخوته ځانونه ورسوي، خو په دې آرمان ډيرو خپل ځانونه ګور ته ورسول او دې نيواکګر ځواک چې کومې هيلې او آرمانونه له ځان سره درلودل، له خاورو سره خاورې شول.
دآزادی دګټلو ستر او سرښندونکي اتل شاه امان الله خان غازي په ۱۹۱۹ زيږديز کال کې دهېواد د خلاصون ورځ اعلان کړه او افغانستان يې د يو آزاد او خپلواک هېواد په توګه نړيوالوته په ډاګه ور وپيژندل.
د زمري ۲۸ مه نېټه زموږ د آزادۍ پلوو مبارزينو او مجاهدينو د سرښندنو، ميړانې او اتلولې ورځ ده، چې دغه ورځ مورته وياړ راپه برخه کوي، ځکه د نړۍ ستر ځواک هېواد انګليس ته افغانانو درې ځلې ستره ماتې ورکړه اودبريا پايله زموږ دباتورو اوننګياليو افغانانو په برخه شوه.
د زمري اته ويشتمه ورځ چې د افغا نستان داستقلال د ورځې په نامه ياديږي، په تاريخ کې په زرينو کرښو ثبت شوې او د ټولو افغا نانو لپاره دوياړونو او د هسکوشملو ورځ هم يادولی شو.
دآزادۍ دبيرته ترلاسه کولو ورځ ميرنې ولس هرکال په ځانګړو مراسمواو جشنونو لمانځي. دوی دخپلو، باتورو اوننګياليو، شهيدانو، غازيانو او اتلانو کارنامې ژوندۍ ساتي او دهغوی ستاينه کوي.
د ملي اوپرتمينوورځو درنښت، دټولوهېوادوالو، ملي وجيبه ده، چې لمانځنه يې په خورا درنښت او وياړ سره وکړي.
د وياړ ونو ډکې ورځې مورته دوياړنو ، پرته هغو هېوادونو ته هم د عبرت درس ورکوي، کوم چې زموږخاورې ته به بدنيت اوبده سترګه ګوري او ديرغل راوړلو فکر ورسره وي.
خو افغانان چې د خپل د وياړ نه ډکې ورځې په جشنونو تازه کوي، نو د افغانستان دخاورې پټ دښمن دبدن هډونه يې په لړزه شي او بيا اتلو افغانانوته کاږه هم کتلی نشی.
په پای کې دهېواد ټول غيور او پتمن ولس ته دخپلواکۍ سلمې کليزې مبارکي په داسې حال کې وايو، چې د افغانستان ملت يو ځل بيا دخپل برخليک په ټاکلو کې ونده اخلي، چې هغه ولسمشرۍ ټاکنې دي.
راځئ؛ هيوادواولو ! په دغه ملي پروسه کې ګډون او د يو متحد افغانستان لپاره کار وکړو چې دا دهر افغان وګړي ملي او ايماني وجيبه ده، چې هېواد او ولس ته ژمن وواسي او دسولې او امنيت په فضاء کې هرکال دخپلواکۍ ملي ورځې په جشنونه ولمانځي.
تل دې وي زموږ خپلواکي او مره دې وي، زموږ دخاورې دښمنان !


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ